# د خپلې کورنۍ د ژبې [ژبو] ساتل

د خپلې کورنۍ د ژبې ساتل د ژبې د زده کړې د راتلونکو هڅو بنسټ جوړوي. کله چې ستاسو ماشومان د ژبې له پیاوړي مېتود څخه په استفادې سره د لیدلو، اورېدلو او ارتباطاتو فرصت ولري، هغوی په آسانۍ سره کولای شي څو ژبې زده کړي.

په ویکتوریا کې د لومړنیو کلونو متخصصینو ته د *Victorian Early Years Learning and Development Framework* (VEYLDF) له خواه لارښوونه شوې ده. دغه چوکاټ د څوګونو ژبو زده کول د یوې شتمنۍ په توګه پېژني او داسې هیلې راټوکوي چې له ماشومانو څخه به ملاتړ وشي ترڅو هغوی خپله د کورنۍ ژبه [ژبې] وساتي، انګلسي د یوې اضافي ژبې په توګه زده کړي، او له انګلسي سربېره نورې ژبې هم زده کړي او په ورته وخت کې د لومړنیو کلونو د تعلیم او مراقبت په پروګرامونو کې برخه واخلي (VEYLDF, 2016).

ستاسو د ماشومانو لپاره په دې کې ډېرې ګټې دي چې خپله ژبه [ژبې] وساتي او پراختیا ته یې دوام ورکړي:

- ستاسو ماشوم د خپلې کورنۍ له ژبې څخه په استفادې سره کولای شي خپل ادراکي انعطاف او پراختیا وغځوي.
- د خپلې کورنۍ د ژبې [ژبو] ساتل د کورنۍ د اړیکو، د نوي اړیکو د ایجاد او د ترېنت/تعلق د احساس لپاره اساس ګڼل کېږي.
- د کورنۍ ژبه [ژبې] ستاسو د ماشوم له هویت، کلتور او هوساینې سره نه شلېدونکې تړاو لري.
- ستاسو د کورنۍ په ژبه [ژبو] باندې تسلط ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي چې د انګلسي په شان اضافي ژبې زده کړي.

The VEYLDF (2016) ښوونکو ته دا واضح کوي چې د لومړۍ یا کورنۍ ژبو زده کول او ساتل د هویت په تکامل کې مهم او دوامداره رول لوبوي (pg. 18). له همدې امله، د اضافي ژبې په توګه د انګلسي د پراختیا د ملاتړ یو مهم جز د ښوونکو او کورنیو لپاره دا دی چې په ګډ مشارکت کې برخه واخلي ترڅو ماشومان دې ته تشویق کړي او ملاتړ ځنې وکړي چې خپله د کورنۍ ژبه [ژبې] وساتي او پراختیا ته یې دوام ورکړي.

## د ماشومتوب مرحلې د زده کړې او مراقبت په چاپېریال کې د اضافي ژبې په توګه انګلسي ته پراختیا ورکول.

ستاسو ماشوم به د ویکتوریا د ماشومتوب مرحلې د زده کړې او مراقبت په چاپېریال کې د انګلسي ژبې د زده کړې لپاره ډېر فرصتونه په واک کې ولري. ځېرنو موندلې چې ماشومان کولای شي د ژبې په چاپېریال کې په اوسېدو، د ژبې د تدریس د ځرګندو موډلونو په پراختیا، او د نوې ژبې د زده کړې لپاره د مناسب وخت په ټاکلو سره د اضافي ژبې په توګه په بریالیتوب سره انګلسي (یا بله ژبه) ژده کړي (VEYLDF, 2016, pg. 22).

په یوې ژبې باندې پوهاوی له ماشومانو سره مرسته کوي په دې پوه شي چې بله ژبه څنګه زده کېږي. هغه مهارتونه چې ماشومان یې د یوې ژبې د ژده کړې په جریان کې ترلاسه کوي، نوې ژبې ته د انتقال وړ دي. د نوې ژبې، د نوې ژبې د قوانینو او د لغتونو د ذخیرې درک د کورنۍ ژبې له لارې ترلاسه کېږي. کله چې ستاسو ماشوم د انګلسي ژبې په چاپېریال کې اوسېږي، هغوی به د دې فرصت ولري چې په بېلابېلو شرایطو کې انګلسي ژبه واوري. هغوی به وغواړي چې له نورو ماشومانو سره په ګډه لوبې وکړي او ښوونکي به ستاسو د ماشوم لپاره غوره موډلونه او ګڼ شمېر فرصتونه چمتو کړي ترڅو انګلسي ژبه واوري او تمرین یې کړي.

د ژبې مهارتونه د ژبې د زده کړې په تړاو د ماشوم مخکینیو تجربو، او د نوې ژبې په چاپېریال کې اوسېدو ته په پام سره چې دوی زده کړې پکې کوي، په مناسب سرعت سره پراختیا مومي. هغه ماشومان چې په ورته وخت کې د څو ژبو په زده کړه باندې لګیا دي، د یو څه مودې لپاره په یوه ژبه باندې له نورو ژبو څخه ډېرې خبرې کوي. په پیل کې ماشومان ښایي د خبرو پر مهال ژبې سره ګډې کړي. هغوی ښایي په یوه ځانګړې کلمه باندې په یوه ژبه کې پوه او په بله ژبه کې پوه نشي. د رواني مکالمې د ساتلو لپاره، هغوی هغه کلمې کاروي چې زده یې دي. دا یو طبیعي او انعطاف منونکې مهارت دی چې ماشومان یې په مختلفو شرایطو کې له خپلې ژبې څخه د استفادې پر مهال زده کوي.

## په یاد ولرئ...

په نوې ژبه کې په روانه مکالمه باندې تسلط وخت ته اړتیا لري او ماشومان د نوې ژبې د زده کړې په بهیر کې په خپل چاپېر کې وخت او له فشار پرته د لویانو ملاتړ ته اړتیا لري.

دا د ټولو ماشومانو حق دی چې خپله د کورنۍ ژبه [ژبې] زده کړي او خبرې ورباندې وکړي (UNCRC, 1989).


**References**

Department of Education and Training, 2016. *Victorian Early Years Learning and Development Framework.*

UNICEF, 1989. *United Nations Convention on the Rights of the Child* (UNCRN).